# د بریا رازونه

ژباړن: نصیر احمد مصلح

کال: ۱۳۹۶ ل



Scanned by CamScanner

# د
# بریا
# رازونه

ژباړن: نصیر احمد مصلح

کال: ۱۳۹٦ ل

4945

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

# د بریـــا رازونه

**ژباړن:** نصیر احمد مصلح

**خپرندوی:** سهار خپرندویه ټولنه - ننګرهار

**کمپوز:** نصیر احمد مصلح

**د پښتۍ ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل

**چاپ شمېر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپ کال:** ۱۳۹٦ ل

**چاپ وار:** لومړی

**خپرنیز لړ:** دویم (۲)

«ددې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو بشپړ حقوق یې له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي»

**د کتاب د ترلاسه کولو ځای:**

Sahar

سهار کتابپلورنځی، اسحاق زی مارکېټ لاندینی پوړ - جلال آباد ښار، ننګرهار.

د اړیکو شمېرې: ۰۷۳۰٦۱٦۴۹۵ / ۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷ / ۰۷٦۷۰۴۸۹۰۸

کابل: اکسوس کتابپلورنځی - ۰۷۹۸۹۸۹٦۹٦

Scanned by CamScanner

# ډالۍ

استاد حکیم الدین منځنی، ښاغلی میر احمد یاد، ښاغلی صفي الله ناصري او ګران دوست حنیف الله «علم» ته!

چې له ما څخه یې هېڅ ډول علمي مرسته نه ده سپمولې،

د ټولو دې کور ودان وي.

«مصلح»

Scanned by CamScanner

# ستايـنه

ژباړه ژبه له علمي پلوه بډايه کوي، په تېره بيا زموږ پښتو ژبه چې په هره برخه کې ورته ډېر کار کول پکار دي.

پخوا به موږ په پښتو ژبه کې د ګتو په شمار کتابونه درلودل او هغه به هم يوازې د ادب او شعر برخې پورې ځانګړي شوي وو، خو اوس ډېر د شکر ځای دی چې زموږ مورنۍ ژبه ورځ په ورځ د تګړه او با همته ځوانانو په کوښښ او زيار سره مخ په بډايه کېدلو ده.

په دې هڅو او کوښښ کې ښاغلي نصير احمد مصلح هم تر يوه حده خپل مسؤليت ادا کړی او پښتو ژبې ته يې ګڼ شمېر کتابونه ژباړلي.

ښاغلي مصلح له دې وړاندې هم کابو پينځه کتابه پښتو ژبې ته ژباړلي دي چې مهم او هغه کتابونه يې چې د لوستونکو تود هرکلي سره مخامخ شوي، همدا د ارواپوهنې کتابونه دي.

دادې مصلح يو بل اړين او ډېر ګټور اثر پښتو ژبې ته وژباړو. په اصل کې دا کوم ځانګړی کتاب ندی، بلکې د پوهانو خورې ورې يناوې دي، چې دوی په خپل کوښښ او هڅو هغه راغونډې کړي او پښتو ژبې ته يې ژباړلي، چې رښتيا هم لوی کار او خدمت دی او زه يې دې کار ته د قدر په سترګه ګورم او ستايم يې.

خدمت ځکه دی چې ځينې وخت په يوه وينا او خبره د انسان په فکر کې داسې يوه مفکوره رامنځته شي چې په هغې سره يې ټول ژوند بدلون ومومي.

زه مې خپلې خبرې راغونډوم او په اخر کې له ښاغلي مصلح صیب څخه نړی نړی مننه او کور ودانی کوم چې داسې زرينې ويناوې يې پښتو ژبې ته وژباړلې او موږ يې ورڅخه مستفيد کړو.

زه يې هڅې ستايم او په ژوند کې ورته د لابرياليتوبونو هيله کوم. له ستاسو لوستونکو څخه هم په ډېر درنښت هيله کوم چې کتاب په پوره غور او علاقې سره مطالعه کړئ او کوښښ وکړئ چې د کتاب له متن او پيغام څخه په عملي ژوند کې گټه پورته کړئ.

اوبه مو سړې او ډوډی مو گرمه!

**په درنښت**

**قاضي حسين احمد کاموي**

Scanned by CamScanner

# سریـزه

کابو دوه، درې میاشتې مخکې مې «غوره کیسې او ویناوې» کتاب، پښتو ته وژباړه. ددې کتاب له ژباړې څخه مې موخه دا وه چې زموږ پښتانه په خپله مورنۍ ژبه د نړۍ د نامتو لیکوالانو، روزونکو او ویناوالو لنډې کیسې او له پند څخه ډکې ویناوې ولولي او ور څخه پند او عبرت واخلي.

خو کله چې هغه کتاب چاپ شو، ټول ۵۲ کیسې او کابو ۲۵۰ ویناوې پکې ځای پر ځای شوې، چې دا د لومړۍ هڅې لپاره کافي وو.

خو وروسته له هغه مې نیت وکړ چې په راتلونکي کې به دې برخې ته ډېر کار وکړم، نو هماغه وو چې بیا مې د نړۍ نامتو پوهانو، لیکوالانو، روزونکو او فیلسوفانو ویناوې راغونډې کړې او پښتو ته مې وژباړلې. دا ځل مې نوښت دا وکړ چې ویناوې مې ډل بندي کړې او د هرې وینا سره مې د هغه ویناوال نوم هم ذکر کړ، څو د هرې وینا وېیونکی څرګند وي.

خو دلته یوه ستونزه وه او هغه دا چې د کتاب نوم ټاکل ستونزمن کار وه، ځکه چې دا د یو نفر وینا نه وي او نه هم د کوم مشخص کتاب څخه ژباړل شوی وي، نو ځکه یې نوم څرګند نه و. نو هماغه وو چې د دوستانو او مشرانو په مشوره مې ورته د «د بریا رازونه» نوم وټاکلو، ځکه چې دا هره وینا د سروزرو په رنګ د لیکلو وړ ده او هره وینا کولی شي چې ستاسو د ژوند د بریا راز وګرځي.

Scanned by CamScanner

ددې کار ګټورتوب په دې کې دی چې يوه وينا ځينې وخت کولای شي چې زموږ ژوند ته بدلون ورکړي. زموږ په کورنۍ کې تل دا خبره شوې او اوس هم کېږي، چې پلار يا مور خپل اولاد ته ووايي چې، زويه! زما همدا يوه خبره تل په ياد ساته او بيا راته يو نصيحت وکړي چې زموږ تل په ياد وي او په هغه عمل کوو، لکه لقمان حکيم چې خپل زوی ته نصيحتونه کړي او نن په ټوله نړۍ کې هغه ويناوې د يو درس او پند په توګه لوستل او عملي کېږي. نو هماغه دی چې ځينې وخت په يوه وړه جمله او وينا کې دومره لوی درس، عبرت او پند پروت وي چې هغه بيا په پوهنتونونو او کتابونو کې هم نه موندل کېږي.

فرانسوي عالم او ليکوال «آلفونس کار» چې په نوولسمه پېړۍ کې يې ژوند کولو، د وينا په هکله وايي: «هېڅ داسې وينا نشته چې په يو ډول نه يو ډول سره په اورېدونکي باندې تأثير ونه کړي»

ما هم د همدې موخې لپاره دا کار وکړ او دا ويناوې مې پښتو ژبې ته وژباړلې.

پښتو ژبه په ډېرو برخو کې کار ته اړتيا لري، خو په دې برخو کې اروپوهنه ډېره اړينه ده. ځکه چې د اروپوهنې د کتابونو لوستل د ټولنې هر وګړي ته اړين او ضروري دي، ترڅو د ژوند په حقيقي مانا پوه شي او په ژوند کې ناکاميو ته تسليم نه شي. دا کتاب يوه کيسه يا ناول نه دی، يوه څېړنه نه ده، تاريخ نه دی، ګزارش نه دی او په حقيقت کې هېڅ شی هم نه دی او په عين حال کې هر څه هم دی او ددې ليکوال هم زه نه يم بلکې هر خط او جمله يې يوه نفر ليکلې او ما يوازې هغه سره راټولې کړې او پښتو ته مې ژباړلې.

شاید هغه تمه چې تاسو یې له یوه کتاب څخه لرئ، دا کتاب یې پوره نه کړي، خو ممکن دی یو له همدغو جملو او ویناوو څخه هماغه کلي وي چې ستاسو د ژوند تړل شوی کلپ ایله کړي او که دغه کار وشي نو حداقل هغه پیسې چې تاسو پر کتاب ورکړې دي، د هغې ګټه به مو ترلاسه کړې وي او ما به هم ددې کتاب د ژباړې اجر ترلاسه کړی وي، انشاءالله.

دا دی ما هم پښتو ژبې ته د پوهانو د ویناوو په برخه کې تر یوه حده او ډېر لږ خپل مسؤلیت ادا کړ او هیله ده چې په راتلونکې کې به د لنډو کیسو او ویناوو په برخه کې ډېر څه پښتو ته وژباړم.

په پای کې له تاسو ټولو قدرمنو لوستونکو څخه په ډېر درنښت هیله کوم چې کتاب ښه په دقت سره ولولئ او په هره وینا یې غور وکړئ، ترڅو د هغې حقیقي موخې ته ورسېږئ.

همدارنګه د یادولو وړ ده چې له ښاغلي صفي الله ناصري څخه هم مننه وکړم چې د کتاب په اوډون (اېډېټ) او بیا کتنه کې یې راسره پوره-پوره مرسته کړې او له خپل ګران دوست حنیف الله علم څخه هم نړی مننه چې د ویناوو په راټولونه کې او د کتاب په تخنیکي برخه کې یې د تل په شان راسره نه ستړې کېدونکې مرستې کړې، مننه او کور ودانی یې کوم.

**په درنښت**

**نصیر احمد مصلح**

**musleeh.naseer@gmail.com**

**Facebook: Ah Naseer Musleeh**

Scanned by CamScanner

# لیکلړ


بریـــا ........ ۱۳
همت ........ ۱۷
وخــت ........ ۲۰
فرصت ........ ۲۳
احتیاط ........ ۲۶
کوښښ (هڅــه) ........ ۲۹
سوکـــالي ........ ۳۲
ادب ........ ۳۶
تــاریخ ........ ۳۹
قلـــم ........ ٤۲
مـــور ........ ٤٤
صـــبر ........ ٤۷
سیاست ........ ٤۹
قـــانون ........ ۵۲
عـدالـت ........ ۵۵
انســان ........ ۵۸
پـــلار ........ ٦۱
حقیقت ........ ٦۳
احتـــرام ........ ٦٦
قــدرت ........ ۷۰


Scanned by CamScanner

راتلونکی ........................................................................................ ۷۲
نیکمرغي ........................................................................................ ۷۵
مینه ........................................................................................ ۷۷
مرسته ........................................................................................ ۸۰
کار ........................................................................................ ۸۳

Scanned by CamScanner

# بریـــا

... ▬▬▬ ...

Scanned by CamScanner

- له لومړنیو ماتو پرته هېڅ بریا نه ترلاسه کېږي.

«لاګرانژ»

- برې هغه وخت ډېر خوندور دی چې د انسان د خپلې هڅې او زیار ثمره وي نه د نورو د زیار.

«چارلي چاپلین»

- بریا تل د هغه چا په برخه کېږي چې په اصلي لاره کې قدم ږدي.

«فرانتس کافکا»

- د بریا غونډۍ ته رسېدل اسانه دي، په شرط ددې چې د بریا په لاره بلد وې.

«فرانتس کافکا»

- بریا ته د رسېدلو لپاره هر کار مجاز دی.

«ماکیاولي»

- په بریا کې غرور او په ماته کې نا امیدي مه کوئ.

«آلفونس دوده»

- پر خپلې بریا خوښ او د نورو په ناکامی غمجن اوسه.

«ګاسپار مونژ»

- هېڅوک د تل لپاره په ژوند کې بریالی او یا ناکام نه دی.

«ریچارډ واګنر»

- بریا درې رازونه لري: لومړی عقل، دویم توان او درېیم له موقعیتونو څخه استفاده.

«راکفلر اوول»

- هغه وخت چې معنوي بریا دې ترلاسه کړه، پوه به شې چې مادي بریا هېڅ اهمیت نلري.

«ماري ولتر»

- که غواړې چې بریا ترلاسه کړې، نو ډېری وخت ماتې ته فکر کوه.

«مارشال رومل»

Scanned by CamScanner

- ټول کولای شي چې بریالي شي، په شرط ددې چې د بریا لار ومومي.

**«اسپینوزا»**

- بریا د هغه چا حق دی چې له خپلو ناکامیو څخه یې درس اخیستی وي.

**«فرانسیس بیکن»**

- پرته له ماتې څخه، بریا خوند نلري. **«توماس مان»**

- هر څوک چې د بریا په قدر پوه نشي، ماتې سره به مخ شي.

**«موریس مترلینګ»**

- یوازې بریا ته فکر مه کوئ، هغې ته د رسېدلو فکر وکړئ. **«آلفرډ نوبل»**

- انتظار مه لره چې تل به بریالی یې، ماته هم شته. **«یوهان کپلر»**

- د یوې بریا خوند، د ۱۰۰۰ ناکامیو په غم ارزي. **«ناپلئون»**

- هغه وخت دې انصاف کړی چې پر خپلو بریاوو او ناکامیو د اعتراف وکړې.

**«ګوستاو فلوبر»**

- پر خپلې ناکامۍ اعتراف او له هغه څخه درس او عبرت اخیستل، بریا ده.

**«نامعلوم»**

- بریا په اسانۍ سره نه ترلاسه کېږي، د هغې په قدر پوه شئ.

**«ګوګول»**

Scanned by CamScanner

● ټول د بريا په لټه کې دي او ماته د دوی په لټه کې ده.

«روبسپير»

● له خپلې بريا څخه مه مغرور کېږه او د نورو له ماتې څخه مه خوشاله کېږه.

«لينکلن»

● رښتينی بريالی هغه څوک دی چې په علم، دين او اخلاقو کې بريالی وي.

«مارتين لوتر»

Scanned by CamScanner

# همت

Scanned by CamScanner

● هر څومره چې همت لوړ وي، هغه مقام چې ترلاسه کوې يې، لوړ او تلپاتې به وي. «زوايګ»

● همت، د هر چا کار نه دی، د زمري وړتيا د پړانګ جرأت او د عقاب دقت غواړي. «فنلون»

● څوک چې همت لري هر څه لري، ځکه چې هر څه به ترلاسه کړي.

«سنت اګزوپري»

● همت، لوی او کوچنی نه پېژني. کوچنی له همت سره، لوی دی او لوی بې له همت څخه، کوچنی دی. «هروه بازن»

● ټول وايي چې همت لري، ولې په رښتيا هغه څوک همت لري چې هغه ښکاره کړي. «کرامول»

● ستا همت چې هر څومره هم لوړ وي، د تقدير پر وړاندې کوچنی قدرت هم نه لري. «دانو نزيو»

● د ټولنې ټول وګړي له مادي پلوه لويېږي، خو معنوي لوی والی يوازې همت غواړي. «پستالوزي»

● که بشر همت نه درلودی، تراوسه به يې خپل لومړي ژوند ته دوام ورکاوه.

«ويچ»

● که له همت څخه مثبته ګټه وانه اخيستل شي، د لرونکي لپاره به يې بې ګټې وي. «لائوتسه»

Scanned by CamScanner

● یوازې همت د بریا لپاره کافي نه دی، عمل هم لازم دی.

«برنارد شاو»

● هغه څوک چې همت یې لوړ دی، په اخر کې به لوړ مقام ته هم ورسېږي.

«جفرسون»

● له کوښښ پرته به هېڅ همت بریا ته ونه رسېږي. «آلکساندر دوما»

Scanned by CamScanner

# وخــت

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● وخت ته د نعمت په سترګه وګورئ، ځکه چې هره شېبه امکان لري چې پای ته ورسېږي.
«کولې»

● هغوی چې د وخت په قدر پوه نشي، تر ټولو به زیات پښېمانه وي.

«اشپنګلر»

● له وخت څخه مه غافلېږئ، ځکه چې غفلت پښېماني نلري. «فردریک»

● وخت مو په کارونو تقسیم کړئ، ترڅو کارونه مو پر ځمکه پاتې نشي.

«بطلیموس»

● وخت د هېڅ لپاره توقف نه کوي، د هېچا لپاره راستنېږي نه او د هېچا لپاره زیاتېږي هم نه.
«شیللر»

● د هر چا لپاره ټاکل شوی وخت شته چې د لېږد وړ نه دی.

«کلوډ مونه»

● ستاسو وخت، ستاسو عمر دی د هغه پاملرنه وکړئ. «فلورانس»

● درې ډله خلکو لپاره وخت ژر نه تېرېږي:

میئن، ناروغ او زنداني.
«چایکووسکي»

● دا چې څومره وخت لرې، اړین نه دی. دا اړین دی چې هغه څنګه په مصرف رسوې.
«لینکلن»

● که وخت ښه تېر شي، لنډ دی. که وخت ښه تېر نشي، ډېر اوږد دی.

«امیل زولا»

● د اوس وخت په قدر پوه شئ، ځکه چې تېر وخت تللی او راتلونکی وخت شاید رانشي.

«گالیله»

● که وخت نه وی، ژوند او نړی به هم نه وه.

«شوپنهاور»

● نه د وخت پیل او نه یې پای زموږ په لاس کې دی.

«ماري آنتوانټ»

● د وخت موده نه ده اړینه، له هغه څخه استفاده اړینه ده.

«کریستهین آنډرسن»

● که له وخت څخه په سمه توگه گټه پورته نه کړئ، په ډېره تېزۍ سره به ختم شي.

«ژول ورن»

● له وخت سره ملتیا وکړئ، ترڅو ژوند ونه بایلئ.

«ډیل کارنگي»

● د وخت تېرېدلو لپاره هم له عقل څه گټه پورته کړئ او هم له فرصت څخه.

«شکسپیر»

● هر وخت خپل ځانگړي شرایط لري.

«ډانته»

● تاسو کولی شی چې پر څمکه مسلط شی، خو په وخت نه شی کولای چې مسلط شی.

«اوژن یونسکو»

Scanned by CamScanner

# فرصت

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● د خیر کار په ترسره کولو کې، هېڅ فرصت باید له لاسه ور نه کړو.

«کنفوسیوس»

● د بشر لپاره لویه بدبختي، د فرصتونو څخه ګټه نه اخیستل دي.

«ګاریبالدي»

● نېکمرغه هغه څوک دی، چې د ډېر کار له امله د سر ګرولو فرصت هم نه لري.

«آندره مارو»

● د فرصت څخه د استفادې لپاره درې شیان اړین دي:

تجربه، چټکتیا او دقت.

«آیزنهاور»

● ځوانان د فرصت په قدر نه پوهېږي او زاړه خلک یې په لاس کې نه لري.

«ژان ژاک روسو»

● ته باید خپله فرصت په لاس راوړې، هغه تاته بل څوک نه درکوي.

«ژول ورن»

● هېڅ پوهېږې! هغه فرصت چې ته ورڅخه ګټه نه پورته کوې، د نورو هیلې دي؟ (یعنې نور یې په لټه کې دي)

«جک لندن»

● که له فرصت څخه ګټه وانخلې، روزګار به هغه بل چاته ورکړي.

«مارک تواین»

● هغه فرصت چې په سمه توګه ورڅخه استفاده ونشي، هغه شتمني ده چې له لاسه وتلې ده. «آدام اسمیټ»

● خپله فرصت مهم نه دی، له هغه څخه ګټه اخیستنه مهم ده.

«فرانس کافکا»

● فرصت نیمه بریا ده او له فرصت څخه استفاده کول ټوله بریا.

«سولژ نیتسین»

● موږ د خپل ټول عمر په اندازه فرصت لرو. «بودا»

Scanned by CamScanner

# احتیاط

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● احتیاط لازم دی، ان په احتیاط کې. **«لامارتین»**

● محتاط ډارن دی او ډارن هم روغ دی او هم ډېر عمر کوي.

**«شوپنهاور»**

● هر څومره چې علم او عقل ډېر وي، انسان محتاط کېږي.

**«گوگول»**

● ان د قدرت او ثروت په اوج کې هم باید احتیاط له لاس څخه ورنه کړو.

**«ژول میشله»**

● بریا دوه وزر لري، یو اختیار او بل احتیاط. **«ناظم حکمت»**

● بې پایلې احتیاط، له تېروتنې سره توپیر نه لري. **«ټاګور»**

● احتیاط یوازې د زړو خلکو لپاره نه دی، که ځوانان احتیاط ونه کړي نو هېڅکله به هم بوډا نشي. **«یوهان باخ»**

● هغه احتیاط چې د عقل له مخې نه وي، منفي پایله به ولري.

**«آلفرډ روزنبرگ»**

● بې احتیاطي هغه وخت پیلېږي، چې اختیار د انسان له لاسه ووځي.

**«نیوټن»**

● پر ځای احتیاط کول، د عقل ښکارندوی وي. **«اینشټین»**

Scanned by CamScanner

● که احتیاط دې وکړ او پایله یې ور نه کړه له بې پروایی سره یوځای شه.

«جیمز واټ»

● له احتیاط څخه هېڅ ضرر نه دی لیدلی، هماغه شان چې له بې پروایی څخه څه خیر نه دی لیدلی.

«فرانسوا موریاک»

● د احتیاط تر ټولو لوړه درجه د خپل ځان، مال او ازادی ساتنه ده.

«رابله»

● ته احتیاط وکړه او روغ پاتې شه، پر پرده چې نور تاته ډارن ووايي.

«آلفرډ نوبل»

● احتیاط باید د عقل له مخې وي، نه د ډار له مخې.

«پل روبنس»

Scanned by CamScanner

# کوښښ (هڅه)

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● لیس الانسان الا ما سعی (د بشر لپاره د کوښښ څخه پرته بل څه نشته)

«القرآن کریم»

● څوک چې کوښښ کوي، مقصد ته به ورسېږي او څوک چې هیلې کوي همداسې به پاتې وي. «ذکریای رازي»

● هېڅ کوښښ او هڅه له پایلې او ګټې پرته نه وي. «مونتسکیو»

● ځینې وخت له خوب کولو څخه بې ځایه کوښښ کول هم ښه وي.

«مولوي»

● کوښښ، دقت او مقاوت د هرې بریا درې اصلي او اساسي ارکان ګڼل کیږي. «شوپنهاور»

● هغه څه چې الله(ج) ته غوره دي، هغه کوښښ به خیریه چارو کې دی.

«ابن سینا»

● د بشر ټول پرمختګونه د هغو د هڅو پایلې دي. «ماکسیم ګورکی»

● هر کوښښ او هڅه خپلې ګټې لري چې په اخر کې به کوښښ کوونکي ته ورکړل شي. «فارابي»

● د کوښښ تر ټولو لوی دښمنان «غم او ناامیدي» ده. «آندره وزالیوس»

● د بشر ۱۰۰۰ هڅې د تصادف په مقابل کې باطلیږي. «شوپنهاور»

Scanned by CamScanner

● کوښښ باید له اتل څخه زده کړو، دومره ماته خوري تر هغه چې اتل شي.

**«وینستون چرچیل»**

● په ژوند کې ټول خلک کوښښ کوي، خو هغه بریالي کېږي چې عاقلانه کوښښ کوي. **«هانس آندرسن»**

● سپېڅلی کوښښ هغه دی چې د نورو د رفا او راحتی په لاره کې ترسره شي. **«ګاندي»**

● که کوښښ نه وی، بشر به د تمدن دې مقام ته نه و رسېدلی.

**«ژان پل سارتر»**

Scanned by CamScanner

# سوکـــالي

Scanned by CamScanner

● د خدای(ج) په عبادت سره مو زړونو ته سوکالي په برخه کړئ.

«حضرت سجاد(ع)»

● یو نا ارامه روح کولای شي چې زرګونه جسمونه په ناراحتی اخته کړي.

«ساموئل آدامس»

● تر ټولو رښتینې سوکالي، د مور په غېږ کې د ماشوم خوب دی.

«لرد بايرون»

● د سوکالۍ لپاره مې ټوله دنیا ولټوله، خو هغه مې په خپل کور کې پیدا کړه.

«کنفوسیوس»

● له ټولو سره په سوکالۍ چلند وکړه، ترڅو له هېچا څخه په وېره کې نه وې.

«چارلز دیکنز»

● رښتینې سوکالي؛ هماغه وجدان دی. «والت ویتمن»

● سوکالي باید حقیقي او باطني وي، ظاهري سوکالي چل دی.

«دافنه دوموریه»

● هغه سوکالي چې په سختۍ یې ترلاسه کوې، په اسانۍ سره له لاسه مه ورکوه.

«شاندور پتوفي»

● له ناراحتۍ څخه پرته سوکالي مانا نلري. «بوریس پاسترناک»

● ټول سوکالي غواړي، خو ټول بیا ناامنۍ ته لمن هم وهي. «چرچېل»

Scanned by CamScanner

● تلپاتې سوکالي هم سترې کېدونکي وي، کله-ناکله توپان هم ښه وي.

**«نیچه»**

● هغه سوکالي چې د نورو د ناارامی باعث شي، گناه ده. **«موتزارت»**

● خپل وجدان راحت کړئ، سوکالي به ترلاسه کړئ. **«پل روبنس»**

● د پلار مټ او د مور غېږ، د ټولو لپاره د سوکالی غوره ځای دی.

**«آدام سمیټ»**

● افسوس د هغوی پر حال، چې د سوکالی لپاره شخړې رامنځته کوي.

**«فلورانس نایتینگل»**

● هغه سوکالي چې د نورو د ناامنی په بیه ترلاسه شي، پایله به یې جگړه وي.

**«اشتراوس»**

● تر هغه چې د ځمکې پر مخ ژوند کوو، سوکالي به نه وي.

**«مارک اورل»**

● د بشر ټول علمي پرمختگونه د هغه سوکالی مرهون دي، چې د هغه په ژوند کې شته وو. **«گاندي»**

● ریښتینې سوکالي په مرگ کې ده. **«اشتاین بک»**

Scanned by CamScanner

- موږ ټول د سبا ورځې د سوکالۍ لپاره اړ یو چې د نن ورځې ناراحتۍ وزغمو.

**«توماس مان»**

- زموږ د ژوند ټول کوښښونه ددې لپاره دي چې سوکالۍ ته ورسېږو.

**«آندره موروا»**

- ما رښتینی جنت په سوکالۍ کې وموند.

**«ژرژ هاندل»**

Scanned by CamScanner

# ادب

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● ادبیات یوازې شعر او نثر نه دی، هر هغه څه چې په نورو کې مثبت تأثیر وکړي خپله د ادب یو ډول دی. «آناتول فرانس»

● ادیبان، د ملتونو تلپاتې پانګې دي. «پوشکین»

● ادب یوازې له سواد سره تړاو نه لري، بلکې استعداد هم غواړي.

«توماس مان»

● کولای شو هر لیکوال او شاعر د هغه له اثارو څخه وپېژنو.

«سولژ نیتسین»

● بشریت د علم او ادب په ستنو ولاړ دی. «امانوئل کانت»

● حقیقي ادب هغه دی چې د انسان ټول اخلاقي رذایل له منځه یوسي.

«ابن سینا»

● د انسان ادب له ټولنیز ادب پرته ارزښت نلري. «ماکسیم ګورکي»

● ادبي ذوق د هر چا په ذات کې شته، مګر روزنه او هڅونه هم اړینه ده.

«مارک ټواین»

● ژوند یوازې په مادیاتو باندې نشو خلاصه کولی، ادبیات هم د بشر د ژوند یوه برخه ګڼل کېږي. «ولټر»

● هر هغه ملت چې ادبیات یې غني وي، په نړۍ کې به ډېر پېژندل شوی وي. «همینګوې»

Scanned by CamScanner

● که ادبیات نه وی، د بشر روحاني نړۍ به دومره روښانه نه وه.

«ماکیاولي»

● هغه وخت چې ادیب شعر وايي او یا نثر لیکي د معنویاتو لوړو ته پورته کېږي.

«آلکساندر دوما»

● ادب د هغه وخت راهیسې چې بشر خپل ځان وپېژندلو له هغه سره مل دی.

«پابلونرودا»

Scanned by CamScanner

# تـــاریـخ

... ▬▬▬▬▬ ...

Scanned by CamScanner

- تاریخ موږ ته را زده کوي چې له تېر وخت څخه کوم درس د راتلونکي لپاره واخلو. **«شیللر»**

- هېڅ داسې تاریخ نشته چې له مینې، بغض او غلطۍ څخه خالي وي.

**«گوته»**

- که تاریخ نه وی، (اوس مهال) به نه رامنځته کېدو او (تېر مهال) به له (راتلونکي مهال) سره تړاو نه پیدا کولو. **«دانته»**

- تاریخ یو نا مطمین پول دی چې له ماضي څخه تر مستقبل پورې اوږدوالی لري. **«ژول ایزاک»**

- تاریخ د بشر د تېر وخت علم دی او جغرافیه د بشر د اوسېدلو د ځای علم. **«توماس مان»**

- هر څوک چې د تاریخ علم زده کړي، هم په تېر وخت کې ژوند کولای شي او هم په (حال وخت) کې. **« آلفرد روزنبرگ»**

- ملتونه په خپل تاریخ باندې ژوندي دي. **«جنرال دوگل»**

- لومړی د خپلې خاورې تاریخ زده کړه، وروسته بیا د نورو تاریخ مطالعه کړه. **«فرانتس فانون»**

- که تاریخ نه وی، هېڅ ملت به هویت نه درلود. **«شوپنهاور»**

Scanned by CamScanner

- تاریخ حقیقت وایي اما له هغه څخه د هر چا برداشت توپیر کوي.

**«متر لینګ»**

- تاریخ د خلکو له ګمراه کولو څخه پرته، بله ګټه نه لري.

**«ناپلئون بناپارت»**

- هماغه شان چې انسانان تاریخ جوړوي، تاریخ هم انسان جوړوي.

**«ولتېر»**

Scanned by CamScanner

# قلـــــم

... ——— ...

Scanned by CamScanner

- ن والقلم و ما یسطرون

«القرآن کریم»

- هغه ماشوم چې په ښوونځي کې قلم په لاس لري، خپل راتلونکی جوړوي.

«ژان ژاک روسو»

- هغه قلم چې د خیر په لاره کې ونه کارول شي، نه دې وي.

«ویکتور هوګو»

- قلم هېڅ دی، خو د قلم خاوند بیا هر څه دی.

«موریس مترلینګ»

- د ملګري په لاس کې قلم، د دښمن د نابودۍ سبب کېږي.

«سقراط»

- قلم باید د بېوزلو خلکو په خدمت کې وي، زورواکي نورې اسلحې لري.

«آلفرد نوبل»

- که قلم نه وی، بشر به د نن ورځې تکاملي مرحلې ته نه و رسېدلی.

«برتراند راسل»

- قلم او ژبه، د انسان د روح دوې پیاوړې وسیلې دي.

«شکسپیر»

- د قلم خاوند باید له قلم سره مینه ولري، ترڅو وکولای شي چې د خیر ذریعه یې وګرځي.

«پاسکال»

- قلم خپله کوچنی دی، خو د کار پایلې یې ډېرې لویې وي.

«مونتسکیو»

Scanned by CamScanner

# مــــور

... ——— ...

Scanned by CamScanner

- د مور غېږ د ماشوم د زده کړې لومړی ځای دی.

«پروین اعتصامي»

- د نړۍ ټولې ښېګڼې او مهرباني يې سره راغونډې کړې او ورڅخه يې «مور» جوړه کړه.

«شکسپیر»

- مه پرېږدئ چې د مور زړه وسوزېږي، ځکه چې نړۍ به وسوځوي.

«الکساندر دوما»

- هغه څوک چې د ژوند ترپایه ستاسو نوم په خوله اخلي، هغه مور ده.

«ماکسیم ګورکي»

- پلار راته ژوند راکړ او مور راته د ژوند کولو طريقه وښوده.

«نیوټن»

- هېڅ ګل د مور په شان عطر، بوی، رنګ او ښکلا نه لري.

«ارنست همینګوي»

- د مور مقام دومره لوړ دی چې ان وطن يې له مور سره تشبیه کړی دی.

«لومړی ناپلئون»

- مور د ژوند، مینې او محبت سمبول دی.

«ماري ولټر»

Scanned by CamScanner

● ښځه تر هغه چې مور شوې نه وي، د خلقت لوړې درجې ته نه ده رسېدلې.

«ژرژ ساند»

● مور د خدای تر ټولو لوی نعمت دی چې بشر ته یې ورکړی.

«لابروير»

● هره مور حتمأ یوه ښه ښځه هم ده اما هره ښځه نشي کولای چې حتمأ یوه ښه مور شي.

«لاووازيه»

● که مور د خپل اولاد له کړنو څخه (آه) ووايي، د خدای عرش به په لړزه راشي.

«امام محمد غزالي»

● مور په یوه لاس زانګو او په بل لاس نړۍ ته خوځښت ورکوي.

«ناپیلون بناپارت»

Scanned by CamScanner

# صبر

...——————...

Scanned by CamScanner

● خدای (ج) له صابرانو سره مینه لري. «قرآن کریم»

● هېڅ بریالیتوب له صبر پرته امکان نلري. «اسحق نیوټن»

● صبر که تریخ دی، خو پایله یې خوږه وي. «آلفونس لامارتین»

● نن صبر وکړه، سبا به بریالی شې. «بالزاک»

● د بریا لپاره یوازې صبر کول اړین نه دي، توکل او کوښښ هم اړین دي.

«ابن سینا»

● صبر د بیړې کولو دښمن دی او بیړه د ماتې سبب کېږي.

«آلفرد نوبل»

● دوه کسان د دوه کسانو لپاره صبر نشي کولای:

مور د اولاد لپاره او عاشق د معشوق لپاره. «شکسپیر»

● ان د تر ټولو ښه انسانانو صبر هم حد لري. «نامعلوم»

Scanned by CamScanner

# سیاســت

Scanned by CamScanner

● له ذاتي شجاعت پرته، نشو کولای چې د سیاست ډګر ته راننوځو.

«جواهر لعل نهرو»

● سیاست، هماغه د ژوند علم دی. «اسمایلز»

● کله مثبت او کله منفي، کله قوي او کله ضعیف کېدل سیاست دی.

«دانته»

● سیاست له عمر سره مستقیم تناسب لري. هر څومره چې عمر ډېر شي، سیاست پیاوړی وي. «مولیر»

● هغه سیاست بریالی دی چې ډېری خلک هیله مند کړي.

«چرچېل»

● سیاست د دوامدارې مطالعې، تمرین او تجربو پایله ده.

«ګوته»

● هېڅ سیاست به ماته ونخوري، مګر هغه وخت چې له ځان څخه د قوي او پیاوړي سیاست سره مخ شي. «ناپلئون»

● سیاست یعنې د هر چا سره د هغه په ژبه خبرې کول او د مینې جلبول.

«بیسمارک»

● سیاست ذاتي دی، له شخص سره زېږي، ژوند کوي او مري.

«تالیران»

Scanned by CamScanner

- که سیاست نه وی، په نړۍ کې به هېڅ هېواد نه و رامنځته شوی.

«اسپینوزا»

- ان د ماشوم خندا د مور په غېږ کې، د سیاست یو ډول دی.

«لامارک»

- سیاست یعنې ځان لوړ ګڼل او نور دې باور ته مجبوره کول.

«سارتر»

Scanned by CamScanner

# قـــانون

Scanned by CamScanner

● د قانون لپاره فقير او غني توپير نه کوي، ټول د قانون پر وړاندې يو ډول دي.

«شوپنهاور»

● زه چمتو يم چې خپل ځان هم قربان کړم، خو قانون هر څه چې دی بايد پلی شي.

«سقراط»

● د نړۍ ټول قوانين، د الهي قانون پر وړاندې بې ارزښته دي.

«پوشکين»

● له تورې پرته قانون د پلي کېدو وړ نه دی. «ژول سزار»

● قانون هغه فرمان دی چې ټول اړ دي هغه اجرأ کړي.

«بنيامين فرانکلين»

● هېڅ قانون نشو کولای چې له منځه يوسو، مګر د يوه نوي قانون د جوړېدو په ذريعه. «آندره موروا»

● د يوه هېواد قانون د هغه هېواد د خلکو ناموس دی. «اوګوست کنت»

● قانون يعنی ډيموکراسي او برعکس يعنې ديکتاتوري. «مارک اورل»

● که هر څوک خپله فردي او ټولنيزه دنده په ښه توګه اجرأ کړي، هغه وخت به قانون ته هېڅ اړتيا نه وي. «ژان ژاک روسو»

● د تورن په فکر د قانون پلي کېدل بې قانوني ده. «مترلينګ»

Scanned by CamScanner

● له درېيو کسانو څخه د قانون رعايت هيله مه کوئ: مغرور، لېونی او کافر.

«محمد غزالي»

● تر ټولو بده بې قانوني هغه ده چې خپله قانون جوړوونکی قانون مات کړي.

«مدرس»

Scanned by CamScanner

# عدالـت

Scanned by CamScanner

● عدالت يعنې د نورو حق هغوی ته ورکول او ايثار يعنې خپل حق نورو ته ورکول.
«مارسل آشار»

● د نړۍ ډېری تمدنونه او ټولنې چې له منځه تللي، دليل يې د هغوی د رهبرانو بې عدالتي وه.
«آلبر مال»

● ظلم مه کوئ، ترڅو عدالت ته اړ نشی.
«آبراهام لينکلن»

● پرته له عدالت څخه هېڅ پرېکړه (قضاوت) سمه نه ده.
«ويکتور هوګو»

● ټول الهي اديان د بشر لارښود او د عدالت د پلي کېدو لپاره رامنځته شوي.
«ابن سينا»

● الهي عدل، تر ټولو لوی او لوړ عدل دی.
«آناتول فرانس»

● هماغه شان چې د ظلم لپاره جزأ شته، د عدالت لپاره هم بايد ګټه وي.
«آلبرت کامو»

● عدالت بايد د ټولو لپاره يو ډول وي.
«ناصر خسرو»

● د عدالت تر ټولو لويه درجه، د ظلم له منځه وړل دي.
«برتولد برشت»

● له ظلم څخه لرې ووسئ، ځکه چې خدای تعالی د ظالمانو دښمن دی.
«فلورانس»

Scanned by CamScanner

- عدالت او مساوات سره توپیر لري.

«نامعلوم»

- د قانون نه جوړول، بې عدالتي ده.

«نامعلوم»

Scanned by CamScanner

# انســـان

... ـــــــــــ ...

Scanned by CamScanner

- والعصر، ان الانسان لفی خسر «القرآن کریم»

- ته انسان ته مه ګوره، انسانیت ته یې وګوره. «سولژ نیتسین»

- انسانیت، انسان د پرېښتو تر مقام پورې لوړوي.

«شوین»

- که انسان په خپل قدر پوهېدلای دا نړۍ به ورته جنت وه.

«سافو»

- انسان هغه موجود دی چې پوره شوی خو لا تر اوسه کمال ته نه دی رسېدلای. «آلفونس دوده»

- ربښتینی انسان د خدای ج له لارې پرته په بله لاره قدم نه ږدي.

«جبران خلیل جبران»

- د «بشر» او «انسان» ترمنځ ډېر واټن شته. «ټاګور»

- هېڅ انسان په نړۍ کې د نورو انسانانو سره د ژوند کولو څخه بې نیازه نه دی. «ابراهیم ادهم»

- ټول انسانان په ظاهري توګه او افعالو سره ورته دي، خو د هغوی باطن دی چې د هغوی ترمنځ یې توپیر رامنځته کړی. «ژان ژاک روسو»

Scanned by CamScanner

● هغه انسان چې د نورو د انسانانو په فکر کې نه وي له حیوان سره توپیر نه لري.

«تنسي ویلیامز»

● ښه انسان هغه دی چې د ټولو لپاره ښېګڼې وغواړي، ان د خپل دښمن لپاره هم.

«کلود برنارد»

● انسان په انفرادي توګه زیږي، خو په ټولنیز ډول ژوند کوي.

«آدام سمیټ»

● هغه انسان چې په خپل قدر پوه نشي، نو څنګه به د نورو په قدر پوه شي؟

«سیمون دوبوار»

● انسان د اضدادو ټولګه ده، چې د هغه منفي اړخونه ډېر دي.

«ابن خلدون»

Scanned by CamScanner

# پــــلار

Scanned by CamScanner

● پلار کېدل اسانه دي، ښه پلار اوسېدل ستونزمن دي. «لارو شفوکولد»

● د پلار لپاره تر ټولو لوی سعادت ټولنې ته د ښه اولادونو وړاندې کول ذي.

«اسکار وایلد»

● ان تر ټولو ظالم انسانان هم د خپلو اولادونو لپاره په زړه کې رحم او محبت لري. «پاسکال»

● پلار د بشر تر ټولو ډېر زیارکښ انسان دی. «هوارد فاست»

● هماغه شان چې پلار په ښه اولاد باندې ویاړ کوي، همداسې د اولاد لپاره هم یو ښه پلار ویاړ دی. «ژان ژاک روسو»

● په نړۍ کې هېڅ کار لکه د یوه ښه پلار اوسېدلو په شان سخت نه دي.

«آندره مالرو»

● هغه پلار د خپل اولاد لپاره یو ښه پلار دی چې هغه خپله د خپل پلار لپاره یو ښه اولاد وي. «ارسکین کالدول»

● د اولاد لپاره مور په سترگو ژړا کوي او پلار په زړه. «میشل سروانتس»

Scanned by CamScanner

# حقیقت

... ▬▬▬▬▬▬ ...

● د حقیقت د اهمیت په هکله همدومره بس دي، چې د حق له کلمې څخه مشتق شوي. «شبلي»

● حقیقت د سپوږمی په شان دی او سپوږمی تر پایه د وربځو شاته نه پټېږي. «گوستا ولوبون»

● له حقیقت څخه خواږه څه په حقیقت باور کول دي.

«دانته»

● د درې ډلو افرادو له ژبې څخه حقیقت اورېدلی شو:

عرفان، سالکان (زاهدان او عارفان) او عاشقان. «ابن سینا»

● د حقیقت ویل وینښ وجدان، آزاد روح او قوي اراده غواړي.

«شوپنهاور»

● موږ د حقیقت په لټه کې یو، خو خپله حقیقت نه وایو.

«آبراهام لینکلن»

● هر څوک د حقیقت د ویلو شجاعت نلري. «بالزاک»

● حقیقت هغه لمر دی چې هر څه روښانه کوي. «اسپینوزا»

● حقیقت لکه د عمر په شان دی، هر څومره یې چې پټ کړی بیا هم ځان ښکاره کوي. «آلبرماله»

● حقیقت ویل باید له ماشوم څخه زده کړو. «سقراط»

Scanned by CamScanner

● د حقیقت سره مخامخ کېدل د زمري زړه غواړي. «دانته»

● حقیقت تریخ دی او دروغ ویل خواږه دي. نو ځکه ټول د خواږو پسې روان دي او خوښوي یې. «آندره مالرو»

● د حقیقت په لټه کې مه اوسی، هغه ستاسو په وجود کې دی.

«امیلي برونته»

● حقیقت نه وایي او حقیقت غواړي!؟ دا بې انصافي ده. «آناتول فرانس»

● شجاعت د مټو په زور کې نه دی، بلکې د حقیقت په قبلولو کې دی.

«پطر کبیر»

● حقیقت هغه تریخ تخم دی چې ثمره یې ډېره خوږه وي.

«گاندي»

● ټول له حقیقت سره مینه لري، مگر په دې شرط چې د نورو له خولې څخه یې واوري. «ژرژ ساند»

● د حقیقت قبلول د حقیقت له بیان څخه ستونزمن دي. «آلفرد هیچکاک»

Scanned by CamScanner

# احتـــرام

... ▬▬▬▬ ...

Scanned by CamScanner

● رښتینی احترام باید له حضرت محمد (ص) څخه زده کړو، ځکه چې ان کوچنیانو ته به یې هم سلام کولو.

**«سید جمال اسد آبادي»**

● هغه څوک چې غواړي نور ورته احترام وکړي، دی هم باید چې نورو ته احترام وکړي.

**«مونتسکیو»**

● احترام باید متقابل وي.

**«شیللر»**

● هر څومره چې نورو ته احترام وکړی. خپل ځان ته به دې احترام کړی وي.

**«آدام اسمیټ»**

● احترام یو اکتسابي صفت دی، هغه خپلو اولادونو ته ور زده کړئ.

**«فرانتس فانون»**

● بشر باید تر ټولو لومړی خدای ته احترام وکړي.

**«جان اشتاین»**

● له ټولو سره په احترام رویه وکړئ، ان که ستاسو دښمن هم وي.

**« بیسمارک»**

● له حد څخه ډېر احترام کول د توقع د رامنځته کېدو سبب کېږي.

**«آلکساندر دوما»**

● د نورو له احترام څخه ناوړه استفاده د رذالت وروستی درجه ده.

**«لویي ماسینیون»**

● که ټول خلک د احترام په ارزښت پوهېدلی او په ژوند کې یې په هغه عمل کړی وی، نړی به په یوه جنتي بڼ بدله شوې وه. «آندره وزالیوس»

● احترام؛ لوی او کوچنی، شتمن او بېوزله، بدرنګ او ښایسته نه پېژني.

«ماري کوري»

● احترام باید په کور کې زده کړو او په ټولنه کې یې پلی کړو.

«آندره موروآ»

● په زور او جبر سره احترام د کینې باعث کېږي. «لرد بایرون»

● نورو ته احترام لرل باید له ماشومتوب څخه زده شي.

«ژان ژاک روسو»

● د ټولنې وګړو ته احترام کول په حقیقت کې ټولنې ته احترام کول دي.

«ارنسټ همینګوی»

● احترام ځوان او زوړ نه پېژني، خو د ځوان له لوري احترام کول هیله بښونکي وي. «افلاطون»

● شتمنو ته احترام کول په حقیقت کې د هغوی مال ته احترام کول دي.

«اسپینوزا»

● مشرانو ته احترام کول، له فردي او ټولنیزو دندو څخه شمېرل کېږي.

«مارک اورل»

Scanned by CamScanner

● هر څوک چې په ځوانۍ کې نورو ته احترام وکړي، په زړښت کې به له نورو څخه احترام ویني.

**«چارلز دیکنیز»**

● مور او پلار ته احترام کول، تر ټولو لوړ او سپېڅلی احترام دی.

**«توماس جفرسون»**

Scanned by CamScanner

# قــدرت

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● تر هغه چې پوره قدرت دې ترلاسه کړی نه وي، باید اطاعت وکړې.

«ناپلئون بناپارت»

● جسماني قدرت تلپاتی نه وي، مګر روحي قدرت تلپاتې وي.

«سروانتس»

● له قدرت څخه استفاده خدمت دی او له قدرت څخه ناوړه استفاده، خیانت.

«موریس مترلینګ»

● هېڅ قدرت، تلپاتی نه وي.

«سقراط»

● قدرت هغه وخت مثبته پایله لري، چې له ایمان سره مل وي.

«اما محمد غزالي»

● ټول قدرتونه د مطلق (د الله ج) قدرت پر وړاندی د بې وسی څخه برخمن دي.

«شهاب الدین سهروردي»

● له جسماني قدرت څخه نفساني قدرت په مراتبو برتري لري.

«الکساندر دوما»

● د تاریخ په اوږدو کې د بشر ټول اختلافات، پر قدرت باندې د غره کېدلو له سببه وو.

«جرج واشنګتن»

● پیسې، وسلې او چل، د قدرت درې غوره سمبولونه دي.

«اډیسون»

● **علامه اقبال لاهوري**، وایي:

قدرت هر ملت از جمعیت است قدرت هر جمعیت از وحدت است

Scanned by CamScanner

# راتلونکی

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● ستا تېر وخت معلوم او اوس وخت دې څرګند دی، راتلونکی دی چې څوک ورڅخه خبر نلري. «ژولیو کوري»

● که راتلونکی نه وی، هېڅ هیله به نه وه. «هانري فورډ»

● بشر نن ژوند کوي ترڅو راتلونکی ترلاسه کړي. «برنارډ شاو»

● له دې امله چې راتلونکې ته د لاس نه رسي، هغه تقدیر ته پرېږده.

«آګاتا کریستي»

● هغه څوک چې ډېر د راتلونکې په هکله فکر کوي، خپل اوسنی حالت هم خرابوي. «چارلي چاپلین»

● د راتلونکې لپاره پرېکړه او کوښښ وکړه او هیله منـد واوسه، خو د راتلونکی لپاره ژوند مه کوه. «ګوته»

● راتلونکې ته د رسېدو لپاره تر ټولو اسانه لار، د هغه په هکله فکر نه کول دي. «میکلانژ»

● مؤرخ د تېر وخت لپاره ژوند کوي، شاعر د اوس وخت لپاره او فیلسوف د راتلونکې لپاره. «ماري آمپر»

● خلک د تېر وخت لپاره «افسوس»، د اوس وخت لپاره «کوښښ» او د راتلونکې لپاره «هیله» لري. «اګوسټ رودن»

● راتلونکی هماغه هیله ده. «اسپینوزا»

● د ټولو راتلونکی هماغه له لومړۍ ورځې څخه ټاکل شوی. «لاووازیه»

Scanned by CamScanner

- راتلونکي ته زړه مه تړه، شاید را نه شي. **«آلفرډ نوبل»**
- ته یوازې نن ژوندی نه یې، راتلونکي ته هم فکر وکړه. **«مارسل آشار»**

# نیکمرغي

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● په دې خاطر چې تل نېکمرغه واوسو، باید له هر چا سره ښې اړیکې ولرو.

«البرټ کامو»

● نېکمرغي یانې د خوښۍ شتون او د درد نابودي. «جان استوراټ میل»

● کومې شېبې مو چې نېکمرغۍ ته په تمه تېرې کړې، افسوس چې هماغه مو د نېکمرغۍ شېبې وې. «افلاطون»

● نېکمرغي، د نېکمرغۍ لټون دی، نه دهغې موندنه. «ویلیام جېمز»

● نېکمرغي، یانې هره ورځ د ښه زېري اورېدل. «ژان پل سارټر»

● نېکمرغي یانې د وزګارو ساعتونو ډکول. «امرسون»

● د نېکمرغۍ لپاره؛ ژور احساس، واقعي خوند او خپلواک فکر لرلو ته اړتیا ده. «ویلیام جېمز»

● د نېکمرغۍ رښتینی راز دا دی چې ذهن تل کار وکړي.

«توماس جفرسن»

● د نېکمرغۍ راز، له غوښتنې پرته په زړه منل دي.

«براډلي»

● نېکمرغي د عقل ارمان نه دی، بلکې د تخیل ارمان دی.

«کانټ»

Scanned by CamScanner

# مینه

Scanned by CamScanner

- د مينې په ژبه هر څوک پوهېږي، ان هغوی چې ژبه هم نه لري.

«ماکسيم ګورکي»

- فکر وکړئ! که مينه نه وای، نړۍ به څومره سړه او بې روحه وه.

«پرل پاک»

- مينه بايد له مشرانو څخه څرګنده شي، د ماشومانو دنده د هغې قدرداني ده.

«ژان ژاک روسو»

- مينې ته بايد په مينه ځواب ورکړو. «آبراهام لينکلن»

- موږ ټول له نورو څخه د مينې کولو په تمه يو، حال دا چې موږ هم کولای شو چې له نورو سره مينه وکړو. «فرانسيس پيکن»

- مينه بايد لکه د اوبو په شان وي، چې ډېره شي خپګان رامنځته کوي.

«آلفونس دوده»

- تر هغه ځايه بايد مينه وکړو چې د سر دردۍ باعث نه شي.

«آستورياس»

- مينه په خپل ځای او خشونت په خپل ځای، دواړه لازم دي.

«افلاطون»

- بې ځايه مينه کول د فساد باعث کېږي. «هربرټ اسپنسر»

- له هغه چا سره مينه وکړئ، چې په قدر يې پوه شي. «دافنه»

Scanned by CamScanner

● د چا په مینه زړه مه تړه او مه مغروره کېږه او نه هم د چا له نفرت څخه ناهیلې کېږه مه، له دواړو څخه ګټه واخله. «لرډ بایرون»

● تر ټولو پاکه مینه، له اولاد سره د مور مینه ده. «داروین»

● هغه څوک چې مینه کوي اما خیانت ویني او بیا هم مینه کوي، هغه مئین دی. «ساموئل آدامس»

● شاید ټول پوه شي چې مینه څه شی ده، اما ټول نه پوهېږي چې هغه څنګه او چېرته وکاروي. «ماري کوري»

Scanned by CamScanner

# مرسته

Scanned by CamScanner

● له حسود، تنبل او دښمن څخه مرسته مه غواړئ چې ضرر به وکړئ.

«روسو»

● که مرسته نه وي، په نړۍ کې به هېڅ کار پایلې ته ونه رسېږي.

«ډانو نزيو»

● تر هغه چې په پوره توګه له چا څخه ډاډه شوی نه یې، نه ورسره مرسته کوه او نه ورڅخه مرسته غواړه.

«امیلي برونته»

● لومړی وګورئ چې همکار مو څوک دی، وروسته له هغه بیا د هغې پر مرسته حساب وکړئ.

«چخوف»

● په ناوړه کارونو کې د مرستې کولو پایله، پښېماني ده.

«جواهر لعل نهرو»

● که مرسته نشی کولای، لااقل خرابکاري هم مه کوئ.

«آلبر کامو»

● د مرستې پایله، تل مثبته او د رضایت وړ نه وي.

«اسپینوزا»

● مرسته او همکاري هغه وخت ښه وي چې له مزد او منت پرته ترسره شي.

«مارسل آشار»

● ما ته ووایه چې همکار د څوک دی، ترڅو زه درته ووایم چې ستا د کار پایله په څنګه وي.

«شوپنهاور»

Scanned by CamScanner

● له دښمن سره چې په هره برخه کې مرسته او همکاري کېږي ، خیانت دی.

«لائوتسه»

● که مرسته نه وای، بشر به له حیواناتو سره کوم توپیر نه درلود.

«هنریک ایبسن»

● د بشر ټولې بریاوې، په مرسته او همکارۍ ترلاسه شوې دي.

«گارودي»

● له بخیل، ناپوه او ډارن څخه مرسته غوښتل جهالت دی.

«هیټلر»

● مرسته او همکاري باید متقابله وي.

«مارکوني»

● په مرسته او همکارۍ سره کولای شو چې سیندونه، دښتې او دښتې، سیندونه کړو او غرونه ځای پر ځای کړو.

«آلفرډ نوبل»

Scanned by CamScanner

# کــار

... ——— ...

Scanned by CamScanner

● هغه کار چې د خدای په لاره کې وي، د خدای له لوري به ورته مزد هم ورکړل شي.

«امام رضا-ع»

● که کار هر څومره سخت وي، وزګاري له هغه څخه سخته ده.

«اسکار وایلد»

● هر کار، د هغه هدف لپاره چې یې لري، مجاز دی.

«ماکیاولي»

● هر څومره چې ستا کار مهم او اړین وي، دښمنان به د ډېر وي.

«شکسپیر»

● بې هدفه کار، هغه لاره ده چې پایله نه لري.

«پیکاسو»

● د نن ورځې کار سبا ته مه پرېږده، ځکه چې سبا ته هم کار شته.

«برتراند راسل»

● هغه څوک چې له کار څخه تېښته کوي، له ژوند څخه تېښته کوي.

«هنري فورډ»

● په هر کار کې د بریا لپاره، هغه د خدای په نوم او پر ځان باور کولو سره پیل او پای ته ورسوه.

«امام غزالي»

Scanned by CamScanner

● نه د نورو په کارونو کې لاسوهنه مه کوی او هم نورو ته اجازه مه ورکوئ چې ستاسو په کارونو کې لاسوهنه وکړي.

**«تولستوی»**

● که هر څوک یوازې پر خپل کار باندې مشغول شي، د ژوند ډېرې ستونزې به حل شي.

**«شوپنهاور»**

● کار او ژوند د یو بل لازم او ملزوم دي.

**«هانري میلر»**

● د هر ملت سعادت او ثروت، د هغه ملت د وګړو د کار څواک پورې اړه لري.

**«آدام سمېټ»**

● هغه څوک چې له کار څخه ډار لري، له ژوند څخه ډار لري.

**«فرانسوا موریاک»**

● رښتینی کار هغه دی چې د اجرا کوونکي لپاره او هم د نورو لپاره ګټور وي.

**«کارل ډېستي»**

● د نړۍ د اقتصاد بنسټ د کار په اساس اېښودل شوی.

**«کارل مارکس»**

● یوازې تولید کار نه دی، بلکې ستراتېژي درلودل هم کار دی.

**«مادام کوري»**

Scanned by CamScanner

# پای

Scanned by CamScanner

# د ژباړن چاپ شوي آثار

۱. مدیریت او رهبري (مقایسوي څېړنه)

۲. د حضرت محمد (ص) د ژوند اړوند ۲۵۰ پوښتنې او ځوابونه

۳. غوره کیسې او ویناوې

۴. د افغانستان د اساسي قانون اړوند پوښتنې او ځوابونه (حقوقي، سیاسي او اداري ستاژ ازموینو لپاره)

۵. روحي آرامتیا او بریالیتوب

۶. بریالیتوب او مثبت اند

۷. د بریا رازونه – همدا اثر

Scanned by CamScanner

# د ژباړن راتلونکي آثار


۱. د نړیوال تجارت سازمان

۲. لیکوالي او ژباړه (د مقالو ټولګه)

۳. مدیریت (عمومي معلومات)

۴. مدیریت په ۲۱ مه پیړۍ کې

Scanned by CamScanner



نصیر احمد مصلح

Scanned by CamScanner

## د ژباړن چاپ شوي آثار:

۱. مدیریت او رهبري (مقایسوي څېړنه)
۲. د حضرت محمد (ص) د ژوند اړوند ۲۵۰ پوښتنې او ځوابونه
۳. غوره کیسې او ویناوې
۴. د افغانستان د اساسي قانون اړوند پوښتنې او ځوابونه (حقوقي، سیاسي او اداري ستاژ ازموینو لپاره)
۵. روحي آرامتیا او بریالیتوب
٦. د بریا رازونه - همدا اثر

Sahar

چاپ چارې:
سهار خپرندویه ټولنه، ننګرهار - افغانستان
۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷/۰۷۳۰٦۱٦۴۹۵
Sahar.publisher@gmail.com

Scanned by CamScanner